پوهندوی آصف بهاند
۲۰۲۰/۱۲/۲۲

# «دا بغاوت ګنې فرض شوی ندی؟»

## د یو چا مقدس بغاوت

**«... بده لا دا ده چې:**

**که ورور ګناه وکړي یا قتل وکړي،**

**خور به دښمن کړه په بدو کې ځي**

**او که يي ورور د چا په خور او لور مئن شي چيرته**

**بيا يي هم خور، ورته په زوره په بدلو کې ځي**

**اوس نو پر ما**

**دا بغاوت ګنې فرض شوی ندی؟»**

(ضيأ کاکړ ديوه)

زه پر فيسبوک باندي ډېر حساب نه کوم او کوم مواد چې په کې خپرېږي، زما له پاره ډېر د اعتبار وړ نه دي؛ خو کله ـ کله یو نیم داسي مطلب یا شعر پکې خپور شي چې تر بنو بنه وي او لکه د چا خبره د هر درد دوا وي. څو ورځې وړاندې مې د فيسبوک په بڼ کې سرګردانه ګرځم واهه چې د بغاوت يو څه مې ترسترګو شول، داسي يو شعر چې د بغاوت چغې ورنه جګېدې. ما هم راکاپي کړ، په خپل کمپيوتر کې مې کېښود، څو ځلې مې ولوست او له ځان سره مې وويل:

زه هم د افغانستان په څېر په يوه داسي دوديزه ټولنه کې داسي زېږه نه شم کولای لکه د دې شعر شاعري غوندي. دې شاعري خو د داسي قوانينو پر ضد د بغاوت بيرغ اوچت کړی دی. زه د همدې کرښو د ليکلو په وسيله، له دې غږ او له دې بغاوت سره همغږی يم او ملتيا يي کوم.

لومړی په لنډ ډول د دې بغاوت د باغي آغلي ضيأ کاکړ ديوې په باب:

ما عمداً وغوښتل چې په دې مقاله کې، د دې مقالې کې د شاعرې بيوګرافي هم ولرم. ګوګل ته مې سر ورښکاره کړ، څه مې ونه موندل؛ نو د کار د اسانتيا له پاره مې له ښاغلي ولي والله صاحبزاده څخه ـ چې دا شعر مې د ده په پاڼه کې ليدلای وـ مرسته وغوښته، د مسنجر پر مټ مو خپلې خبرې سره وکړې، خلاصه يي داسي:

ـ آصف بهاند:

صاحبزاده صاحب سلامونه!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

هیله ده هرڅه ښه وي.

زما نوم آصف بهاند دی او پخوا  د کابل پوهنتون په ادبیاتو پوهنځي کې استاد وم.

زه مو ډېر مننداوی یم چې پرون مو د «دود» ترسرلیک لاندې په خپله فیسبوکپاڼه کې یو شعر خپور کړی دی.

زه غواړم پر دې شعر باندې یوه مقاله ولیکم، که ممکنه وي د همدې شعر د شاعر په باب معلومات راسره شریک کړئ مننداوی به مو یم.

له مرستې نه مو  همدا اوس مننه!

ــ ولي والله صاحبزاده:

«درود او محترم استاد، الله مو تل درانده او اباد ولره، زه به همدا اوس د نوموړي لیکوالي په اړه معلومات راپیدا او له تاسي سره به یې شریک کړم.»

ــ آصف بهاند:

ستاسو دې کور ودان وي!

... زما اصلي موخه دا ده چې د دې د غږ او بغاوت ملتیا وکړم، تر څو به پر افغانانو او پښتنو باندې دا ناوړه دودونه د خپسي بلا غوندې پراته وي او تر څو به پښتني پېغلې او مېرمنې دا درونږ پیټی پر اوږو باندې چلوي.

که یې له تاسو سره اړیکه ونیوه او کورنی یې اجازه ورکوله، یوه لنډه غوندې بیوګرافي یې که په مقاله کې له شعر سره راوړل شي هم به یې د یوې زړورې شاعرې په ډول حق ادا شي او  هم به د ځوانانو د تشویق له پاره یوه بېلګه شي.

ــ ولي والله صاحبزاده:

درود استاد محترم سلام، خدای دې وکړي،چې ناوخته کړی مې نه وي، دنوموړې سره مې بیګاه ناوخته خبرې وکړې، او دغه لنډه بیوګرافي یې راله راکړه، تل بریمن اوسې.

او ولي والله صاحبزاده د «دود» نومې شعر د شاعرې د بیوګرافی دا متن ما ته راته راولېږه چې زه یې له تاسو درنو لوستونکو سره شریکوم:

«ضیأ کاکړ ډیوه د خدای بښلي مرزا عبدالمجید خان لورده، په ۱۳۳۰ ام کال د لغمان ولایت د ډیوې په کلي کې زېږېدلې ده.

لومړنی زدکړې یې د لغمان د عمرزایو په لومړني ښونځي، منځنۍ زده کړې د کابل د سوریا او رابعهٔ بلخي عالي لیسو کې تر سره کړي دي.

مسلکي زده کړې یې د ماسترۍ په کچه د کابل پولیتخنیک په انستیټوت کې سرته رسولي دي.

**دندې:**

ــ د مزارشریف په کود او برق فابریکه، د معادن او صنایعو وزارت د سروې معادن او جیولوجی په لوی ریاست کی د انجینری په توګه،

ــ د ښځو د سازمان د نهمي ناحیې مسئوله،

ــ د اوبو او د اوبو د زېرمو وزارت د پلان په ریاست کې، د پلان د پلې کېدو د ارزونې په برخه کې،

ــ د افغانستان د ښځو د شورا د کابل ښار د مسئولې په توګه،

ــ د مېرمنو ټولنې د بهرنیو اړیکو د آمرې په توګه،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ـ د ښځو چارو په وزارت کې د مېرمن د مجلې د اډیټوري په توګه،

دا فغانستان د دولت په چوکاټ کې یې تر ۲۰۰۵ ام عیسوي کاله پورې دندې تر سره کړي دي.

په دواړو لویو جرګو (بېړنی لویه جرګه او د اساسي قانون لویه جرګه) کې یې د لغمان د ویاړلو خلکو په استازیتوب ګډون کړی دی او د لویې جرګې مډال یې د درنو لغمانیو په استازیتوب په ویاړ په غاړه کړی دی.

په خواشینی سره چې د ملي دریځ د خپلولو په جرم، د مرګ له ګواښ سره د مخامخ کېدو په وجه یې، جبري هجرت ته غاړه ایښې او د ۲۰۰۶ ام کال د فبرورۍ نه وروسته د کاناډا په هیواد کې د پردېسی شپې سبا کوي.

د همدې هجر وجه وه چې د ۲۰۱۶ ام عیسوي کال د مۍ پر شپاړمه، سهار نه بجې چې د دوستم او عطا نور د جنګ خبر پر تلویزیون خپور شو، ما ته له درد سره مل، دا کرښې په ژبه راغلې:

**خدایه دا موږ دي بنده ګان یو که نه؟**

**تا خو زموږ له خدایي نه لاس اخیستی ندی؟**

**او...**

اوس چې یو څوک هم یم، د وطن د درد له برکته یم.

بریا!»

په شعر کې مې چې د شاعري بغاوت ولید، له دې سره سم د پوهاند دوکتور بهاالدین مجروح هغه بغاوت رایاد شو چې په ځانځاني ښامار کې یې کړی و او استاد عبدالرؤف بېنوا ورته د «مقدس بغاوت» نوم ایښی و.

استاد بېنوا د مجروح د ځانځاني ښامار د لومړي چاپ له پاره یو لنډ یادداښت لیکلی دی. په دې یادداښت کې بېنوا مجروح ته ویلي چې تا په دې اثر کې بغاوت کړی دی او دا بغاوت د داسې یو مقتدر شي په مقابل کې شوی چې هغه د ټولنې او خلکو پر روح او روان باندې لکه خپسه پروت دی او هغه د ځانځانی بلا ده. بېنوا د خپل یادداښت په یوه برخه کې داسې لیکلي دي:

«... مقدس بغاوت ځکه ورته وایم چې مجروح د ځانځاني ښامار د هغه فاسد، غلط، کاذب او په عین حال کې غضبناک، بېباک. ډارونکي او پر ځان مېین اقتدار پر ضد بغاوت کړی دی چې ځینې ناپوه او خود خواه انسانان یې د ورېښمو د چنجیو په شان په خپل واک کې له خپلو ځانو ځخه زېږوي او بیا داسې ځانونه پکښې نغاړي چې بې له خپلو ځانو څخه بل څه نه ویني او له هریوه څخه د «زه» بُت جوړ سي... نو په داسې وخت کې همداسې یو «مقدس بغاوت» په کار دی...»

(پوهاند دکتور مجروح، ځانځاني ښامار، خپرونکی: د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی. ۱۳۵۶ اک کال، د مقدمې دویم مخ)

اوس زموږ په تر بحث لاندې شعر (دود) کې هم شاعر بغاوت کړی دی، د داسې یو دود، دستور او پر ټولنه او خلکو باندې د یو حاکم نرخ په مقابل کې یې بغاوت کړی دی چې له شاعر نه نیولې، بیا د ټولنې تر نه نوي سلنه خلکو ته یې زیان رسولی او رسوي یې؛ دا دود ټول خلک ویني او عملاً یې لمسوي:

ـ خپلې خور او لور باندې ولور اخلي،

ـ واده په ولور کوي،

ـ جلۍ په بدو کې ورکوي،

ـ که نارینه مین شو خپله خور هم په بدل کې ورکوي،

ـ د ورور تر مرګ وروسته، خپله وریندار خاڼته په نکاح کوي،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ـ هر نارینه ښکلي ښځه غواړي، خو د ده کره که لور وزیږیږده، شرم یې ګڼي او ملامته هم ښځه ګڼي

ـ او...

خو ټول ورته غلي دي. په پیړیو ـ پیړیو رواني دغي ناروا ته د شاعر زړه تنګ شوی، د خپل غږ یې جګ کړی دی او د بغاوت په ترخ کې یې ټولو ته دا پوښتنه په مخ کې ایښې ده:

**«... بده لا دا ده چې:**

**که وروو ګناه وکړي یا قتل وکړي،**

**خور به دښمن کره په بدو کې ځي**

**او که یې وروو د چا په خور او لور مئن شي چېرته**

**بیا یې هم خور، ورته په زوره په بدلو کې ځي**

**اوس نو پر ما**

**دا بغاوت ګني فرض شوی ندی؟»**

دا پر ټولنه باندې د حاکم قانون په دایره کې داسې چیغه او بغاوت دی چې کېدای شي د سر په بیه تمام شي، خو د سر د بیې په قیمت سره چا دا تاوان منلی دی او د دغو ناانساني قوانینو پرضد یې خپله چیغه جګه کړې ده. په داسې یوه ټولنه او چاپېریال کې یې دا غږ جګ کړی دی چې هلته له سلګونو کلونو راپه دېخوا دا قوانین وضعه شوي، چلېږي او د ښځو پر سربانديې تر مېچنو هم سخت او درانديې تاوېږي، لکه تېره د ښځو پر سر پراته دي او لکه دېره د سلګونو کلونو په تېرېدو سره بدل شوي هم نه دي.

دا هم د شعر بشپړ متن

## دود

ز ه کلیوالہ یمه،

په کلیوالو ویاړم،

د کلیوالو درناوی کومه

خو:

ما مې د کلی دود دستور نه بغاوت کړی دی

ښه په جرئت کړی دی

دلته د نجونو درناوی نه کیږی

دلته کی نجونو ته په سپکه ګوري

دلته د نجونو میندي نه درنیږي

دلته بی زویه مور، بی وروره خور ته



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خلک میراته وايي

په پیغورو يې وژني

دلته هیڅوک پدی هم نپوهېږي

چي:

که د لور، زېږون ګناه ده نو بیا

مور خو ګناه ګاره نده

پرې ولی بنه، راشي

که هغه هم لور راوړي

بله راشي، بله راشي

زموږ د کلي دا متل ما وژني:

«د خره به ښته څه وي، د ښځې ګته څه وي»

دلته د انسان ارزښت په ګټه تلي

بده لا دا ده چي:

که ورور ګناه وکړي يا قتل وکړي،

خور به دښمن کره په بدو کې ځي

او که يي ورور د چا په خور او لور مئن شي چېرته

بيا يي هم خور، ورته په زوره په بدلو کې ځي

اوس نو پر ما

دا بغاوت ګني فرض شوی ندی؟

ضیأ کاکړ دیوه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ